مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال

۲۰۲۰/۱۱/۱۶

# سره سندره

شور دی، شور دی، لور په لوري خور دی،
شور دی، شور دی
نوي زمانه کې د پښتون د ژوند انځور دی،
شور دی، شور دی

*****

نوي زمانه ده، د پښتون شعور ویښ شوی دی
هسک را پاڅېدلی دی، ځان یې پېژندلی دی
ووځه د دوزخ امامه مخ دي ورته تور دی،
شور دی، شور دی

*****

غر که وي هم تنګ به شي، جنګ سره په جنګ به شي
دغه د تیارو بوتان، مات به شي او ړنګ به شي
دومره ډېرو زړونو نه راتاو د قهر اور دی،
شور دی، شور دی

*****

راغلل سمندر دي دا، وتي په محشر دي دا
کومې خوا ته سر دي دا؟ لر دي که د بر دي دا؟
غر کړئ مومن خان ته چې بنامار دې ناست په کور دی،
شور دی، شور دی

*****

غرونو کې بریښنا ـ بریښنا، اخلي تړې رڼا ـ رڼا
نوی به کړي دا دونیا، رهبردي د اتوم باچا
دا د لوی تبر د ویښتابه د شعور زور دی
شور دی، شور دی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ